شیرمحمد امیني ستانکزی ۲۰۱۸/۰۱/۲۳

# په افغاني ټولنه کې د انګیرنو(فالونواو شګونونو) دودونه

د پښتو شفاهي ادبیاتو کې یوه غوره څانګه انګیرنې( فالونه او شګونونه) دي، چې لرغوني لرلري.
انګیرنې(شګونونه) د هیواد په ډېریو سیمو کې تراوسه هم رواج دی، چې دغه کړنې له پخوانیو خلکو موږ ته راپاتې دي، ځکه پخواني ولسونه د علم او فرهنګ څخه دومره برخمن نه ؤ، دوی د خپلو عقایدو او افکارو له مخې د پېښو او واقعو لاملونه د خپل قضاوت له مخې ټاکل، چې ګویا دغه عمل د خلکو په زیان او یا په ګټه یې دی.

خو فالونه او انګیرنې په وروسته پاتې ټولنو کې لاهم دود دی، چې ډېري ولسونه پدې عقیده ځرګنده وي، وايي، چې دغه عمل سم او واقعیت لري، خو د اسلام له شرعي احکامو له مخې نباید په دغوناسمو عقیدوي افکارو سرې عمل وکړي؛ بلکې دا په اسلامي ټولنه کې یو زیرونده عمل بلل کیږي او ناروا هم دی.

فالونه او شګونونه په هغه ټولنه کې چې انسانان یې د علم او یا تجربو مرحلو ته نه وي رسیدلي، نو د پیښو د علت د معلومولو لپاره د عقیدیي دلایلو او خیالبافیو څخه کار اخلي، چې په نابړه توګه انسان کومه پیښه په سترګو ویني او یا په غیر ارادي ډول د انسان د بدن کوم غړي یې په حرکت شي، نو د دې لپاره انګیرې چې ګوندې له دغې پیښې سره مخ او یا د خوښۍ کوم خبر ترلاسه کوي، چې په حقیقت کې دغه عمل هیڅ کومه مانا نه ورکوي او یو خرافاتي عمل دی.

د انګیرنې یا فالونو زیانونه او ګټې ډېري انسانان تراغیزې راولي، که چیرته ځوک کوم فال په بد شګون ویني کیدای شي، تر ډیر وخت پورې به د سوچونو په دنیا کې غرق وواسي او آن ترددې چې په رواني ناروغۍ هم اخته کیدای شي او هغه کسان چې شګون یې په نیک عمل بنودل شوي وي، دا کس به هم د ډېرو وختونو انتظار ته شیبې شمیري، چې کله به دخوښۍ له پیښو سره مخ کیږي.

که ولیدل شي، په ورسته پاتې ټولنو په ادبیاتو کې فالنامې هم لیدل کیږي، خو په دغه لیکنه کې به یواځې په فلکلوري انګیرنو خبرې وشي. داهغه فالونه دي، چې زموږ د ولسونو ترمنځ باور یې زیات دی، چې د هیواد په ډېري سیمو کې ډول ډول انګیرنې شتون لري، چې ځینې انګیرنې یې منثور او ځیني یې په منظوم ډول دي.

په وروسته پاتې ټولنه کې فال اچول او یافال لیدل د ځینو مرادونو لپاره هم کارول کیږي او ځینې کسان د خپل ځان ډاډه کولو لپاره فال لیدونکو ته ورځي. نو انګیرنې یوخیالي او ذهني نقشې دي، چې د خلکو په ذهنونو کې ګرځي، که اوس ځیر شو نو دغه انګیرنې ورځې تربلې د خلکو له پامه غورځي او ځاي یې د پوهې ډیوې نیولې دي، چې داهم د خلکو په پرمختګ کې ستر رول لیدل کیږي او که د انګیرنو نرې ته مخه شي، دا به ولسونه نورهم د جهالت کندې ته وغورځوي او هیڅکله به د انسانانو د فرهنګ په تکامل کې پرمختګ ونه لیدل شي. ځکه ټولنه په فرهنګ ژوندۍ پاتې ده، که فرهنګ د وخت په اساس وده ونکړي، نو ټولنه هم ورسته پاتې وي او د پرمختګونو سبب نشي کیدای .
خو باید دغه انګیرنې هم له پامه ونه لویږي، ځکه دا زموږ د فرهنګ برخه شمیرل کیږي، ولې عملي بڼه په دیني ارزښتونو سره ورنکړل شي، ځکه دا د فلکلوریک ادبیاتو برخه ده، نو کوښښ دې وشي، چې د خپلو فلکلوریک ادبیاتو بډاینه په سمو کړنو او فرهنګي ارزښتونو سره وشي.

د لوګر په سیمه او د هیواد په ولایتونو کې ورته انګیرنې په لاندې ډول دي، چې د ځینو یادونه یې دلته کوو.

۱ - که د چا ښۍ لاس وتخنیږي وايي، چې پیسې ترلاسه کوي او که د چا کیڼ لاس وتخنیږي، وايي، چې پیسې یې له لاسه ځي.
۲ ـ د چاي ځښلو په پیاله کې د شمې لوی خولګۍ چې ولیدل شي وايي، چې کورته یې میلمه راځي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۳ ـ د چا زنه چي وتخنيږي وايي، چې په کور کي ماشوم دنيا ته راځي.
۴ - دلاسو او پښنو د ګوتو نکان يو ځای غوځول وايي، چې غم او ښادي په يو ورځ وي.
۵ ـ د کليانو شړنګول وايي، چې جنګ نښلي.
۶ - ښی سترګه الوتل وايي، چې خوښي ويني او کينه سترګه الوتل وايي بد خبر ترلاسه کوي.
۷ ـ د اوږو لندولوپړمهال يوه ټوټه يې الوتل، په دې مانا چې کورته ميلمه راځي.
۸ ـ کله چې د دو کسانو ترمنځ لفظي شخړي شي، نو دريم شخص به د خپلو لاسونو نکان يو بل سره جنګوي. وايي، چې په جنګ واوړي.
۹ ـ د چا د کور په بام کله چې کاغکی ناري وهي، د کور خلک له ځان سره وايي، چې ښه خبر، دا په دې مانا چې مسافريي کور ته راځي.
۱۰ - ژبه د غاښونو لاندې کيدل په نا پامي ډول، وايي، چې چاه مې غيبت وکړ.
۱۱ ـ د سترګو د وريځي په سر ديو کوچني خزلي نښل وايي، چې کالي ځوک راته کوي.
۱۲ ـ په شپه کې د چرګې آذان په دې مانا چې د کور ښځتن خپل سر خوري او کورنی يې وايي، چې بايد دغه چرګه ژر ترژره حلاله شي.
۱۳ ـ د ډوډۍ خوړلو پرمهال پرنجی کول ، په دې مانا چې نږدې دوست دې ياد کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ